هفته نامه
دجهاد هنداره
مـراة الجـهـاد
رمږي کال ، ۲۹ گنه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دحمل (۷)

PROPERTY OF ACKU

رژیم کابل زندانیان سیاسي راشکنجه مي کند

سازمان عضوبین المللي نیز ازرژیم کابل خواسته است به شکنجه زندانیان سیاسي پایان داده وبه سازمانهاي بین المللي اجازه دهد که اززندانهاي این کشور بازدید کنند.
سازمان عضو بین المللي میگوید براساس گزارشهاي که بدست دارد وزارت امنیت رژیم کابل صدها زنداني سیاسي رابدون تثبیت اتهام شان درمراکز تحقیق محبوس نموده وبه زندانیان اجازه انتخاب وکیل مدافع وملاقات بافامیل هایشان داده نمیشود سازمان عضو بین المللي ازرژیم کابل خواسته است که مقامات زندانها راازتوصل به شکنجه زندانیان ممانعت نماید

دقیصار په ولسوالي کي دمجاهدینو نوي بوخي بریالیتوبونه

(٤) مخ کي

الحاج مولوي جلال الدین حقاني دجهادهنداره له جریدي سره په یوه مرکه کي وویل :

اوس دخوست دښار په شاوخواکي درڅ یم ټول کلك د فاعي او ستراتیژیك سنگرونه دمجاهدینو له خوا فتحه شویدي

پر دښمن د محاصرې کړۍ شیبه په شیبه تنگیږي

دبلخ په ولایت کی مجاهدینو دکابل رژیم ۱۲ تنه عسکر وژلی

بلخ میډیا :
دبلخ له ولایت نه په یو رپوټ کی ویل شوی چی :
مجاهدینو دحوت په ۲٤ مه نیته دبلخ ولایت دنهرشاهی دولسوالی دوزیراباد په سیمه کی دکابل درژیم پرپوستو یو لړبریالی عملیات ترسره کړل ، چی دهغی په نتیجه کی ددښمن ۱۲ تنه عسکر اوملیشه مړه (۲۰) تنه ټپیان اوهم ددښمن قواو ته درانده مالی تاوانونه رسیدلی دی .

عملیات موفقانه مجاهدین درولایت غورو کندهار

کویته میدیا
یك منبع جهادی ازولایات جنوب غرب کشور به نمایندگی (میدیا) درشهر کویته اطلاع داده که مجاهدین بتاریخ (۲۸) حوت ۱۳٦۹ درمنطقه شهرك ولایت غورطی یك عملیات مشترك جهادی دوپوسته ، نظامی رژیم کابل را باتمام امکانات ان به آتش کشیده ،منهدم ساخته است .
بگزارش منبع مذکور مجاهدین طی نبرد یکه درطول فتح هردو پوسته ذکر شده انجام دادند (۲۱) تن از منسوبین نظامی رژیم کمونست کابل رابا سلاح ومهمات دست داشته شان اسیر و(۸) نفر دیگر شانرابه هلاکت رسانیده اند .
بگزارش همین منبع یك گروپ از مشاورین روسی با وزیر داخله رژیم کابل بروز(۲۰) حوت (۱۳٦۹) ازیك مرکز نظامی وشفاخانه مربوط ان درشهر کندهار دیدار بعمل می اوردند که مجاهدین باکشف اطلاع قبلی شان محل دیدار کمونست هارا بافیرراکت های میان برد مورد اتشباری قرار دادند که در نتیجه ده نفر ازنیروهای محافظ هلاك وپنج نفردیگر شان زخمی شده است ازهلاکت ویا جراحات مشاورین روسی خبر موثق دردست نیست .

دروسیي دډبرو سکرو دمعدنونو کارگرانو دد غه حکومت غوښتنه رد کړه

مسکو دحمل ٥مه :
دروسیی دډبرو سکرو دمعدونونو کارگرانو خپلو دندو ته دبیرته ستنیدو په هکله دروسیی حکومت وړاندیز رد کړی دی اوخپل اعتصاب ته یی دوام ورکړی .
ویل کیږی چی ددی کارگرانو داعتصاب له امله دروسیی دډبرو سکرو له دری سوه کانو څخه تقریباً نیمایی فلج شوی دی .
دروسیی صدراعظم پاولف دهفتی په ورځ له دغه کارگرانو څخه غوښتنه کړی وه چی کم ترکمه دیوی ورځی لپاره دې خپلو کارونو ته حاضر شی .
دروسیی صدراعظم پاولوف ویلی دي چی اعتصاب کونکو په خپل اعتصاب سره دهیواد اقتصاد ته سخت زیان رسولی .
اعتصاب کوونکو داخبره رد کړی ده چی دوی دروسی فدراسیون دجمهور رئیس یلتسین ددغه اعتصاب پیل کړی. دیادونی وړده چی یلتسین ددغه اعتصاب کونکو څخه چی دگورباچوف استعفا غواړی ، خپل ملاتړ څرگندکړی دی .

دهندپولیس سګان دبمونو په چاودنو کی متهموی

نوی ډیلی دحمل ٥ مه :
دهند پولیس وایی چی دوی گومان کوی چی په نوی ډیلی کی دبم په هغه چاودنه کی چی لږ ترلږه ۱۱ کسه پکی وژل شوی ، دسك ازادی غوښتونکی لاس لری دبم دغه نوه چاودنی تیره ورځ دنوی ډیلی په لویدیځه برخه کی ترسره شوی
چی د ۱۱ کسو دوژل کیدو سربیره یی څه دپاسه ۱۰۰ کسه نور ټپیان کړل ، دواړه بمونه ده دقیقو په فاصله کی وچاودیدل .
که څه هم هیڅ ډلی ددې کارذمه داری په غاړه نده اخیستی ، خودهند پولیس وایی چی دوی د پیښی له ځای څخه داسی پوډر ترلاسه کړی چی اکثره یی سکان دخپلو تخریبی فعالیتونو لپاره استعمالوی .

سازمان ملل متحد درقیودات عاید کرده خویش علیه عراق به نرمي گرائیده

کمسیون موظف درمورد نگراني راجع به قیودات بین المللي علیه عراق جمعه گذشته نرمشي ازقیودات خویش وارد اورده و اجازه داد تامقدار وافري ازمواد غذایي داخل عراق گردد کمسیون بین المللي مذکور همچنان خواهان راي ونظر ازکشورها وموسسات خیریه درمورد ارسال مواد خوراکي ، ادویه وسامان الات تصفیه اب به عراق شده است .
طبق یك فیصله دیگر کمسیون مذکور ازتنظیم هاي امدادي وکشورهاي جهان درخواست مي کند تاسامان الات برقي ، زراعتي وتصفیه اب نوشیدني رابه عراق بفرستد ، که این پیشنهاد ازجانب سازمان هاي جهاني بزودي پذیرفته خواهد شد.

دخوست له جگړی څخه وروستي دری ورځني رپوټونه :

دخوست دڅارندوی قوماندان جنرال غوندی د ٤٠٥ تنو ملیشوسره په هلاکت ورسید

دشیخ امیر علاقداري فتحه اودرژیم دوی الوتکی رانسکوری شوي

دبمباریو اوسکړ توغندیو له ویشتلوسره (۲۰) پوستی فتحه شوي دي

دهغو خبرونو له مخي چي په خوست کي دقوماندان الحاج حقاني له جهادي جبهاتو څخه دجهادهنداري جریدي ته رسیدلي ویل شوي چي دحمل په ۳ نیټه دشیخ امیر علاقه داري د زړورو مجاهدینو له خوا فتحه شویده .
همدغه راز په همدي ورځ درژیم پنځه پوستي له یوي قرارگاه دتیل خاني په سیمه کي فتح شوي اوهم دگگردسرپوسته دشپي په دوویجو مجاهدینو ونیوله .
دحمل په (٤) نیټه ددښمن یوه څلور ماشینه الوتکه دمجاهدینو دستینگر په واسطه راوغورځیده اوپه همدي ورځ دیوولسو بجونه

په ٤ ، مخ کي

عراقی کردیانو د مهمو ښارودنیولو ادعاکړی ده

بغداد دحمل ٥مه :
دکردی باغیانو دوطنپالی اتحادیی مشر وایی چی دده تنظیم پوری مربوط جنگیالیو دجلال دسیند ختیځ لوری ته ټول مهم ښارونه نیولی دي په عین حال کی دتهران راډیو وایی چی دعراق په جنوب کی داماره ، ناصریه ، کربلا اوبصری دښارونو په گډون تقریبا شپږو ښارونو کی جگړه روانه ده .
دتهران راډیو همداراز ویلی دی چی دجگړی له پیل څخه تراوسه دجمهوری گارد دڅلور زره عسکرو په گډون دعراق پوځ تقریباً ۳۰۰۰۰ عسکرباغیانو ته تسلیم شوی .

سرمقاله

پرخوست دمجاهدینومتحد بریالی عملیات دجهادی سنگرونو دوحدت بیلگه

خوورځی دمخه پرخوست باندی دمجاهدینوگډ عملیات پیل شول چې تراوسه پوری په بری سره دوام لری اوپه نتیجه کې یې دخوست دښار دشاوخوا ټوله دولتی ارگانونه (علاقه داری ، ولسوالی) پوځی مرکزونه، امنیتی پوستی او ددفاعی لیکی له یوی مخی فتحه ددښمن دقواو زیات شمیر افرادیادمقاومت په نتیجه کی وژل شوی ، ځینی ژوندی نیول شوی،یو شمیر یی پخپله مجاهدینو ته تسلیم شوی اوځینی دخوست ښارته تښتیدلی دي .

٤مخ کي

دخوست له رواني جگړې نه دجهادهنداری دلیږل شوو خبریالانو راپورتاژ

۳مخ

دجهادهنداري جریده دخوست دجهادي خبرونو دژرترژره خپرولو په منظورپه مؤقتي توگه په اوني کي دوه ځله خپریږي .
گران لوستونکي دي خبروي

زه دالهي احکامو مطابق داخبره کوم چی کوم خلك وسله په ځمکه کیږدي او د جگړې په حالت کی گیرنه شي ، دوی ټولو ته عفو ده اوموږ ددوی دسراومال نه دفاع کوو «الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

سمیع الله « تازه »

رژیم کابل درگرداب بحران وسقوط

رژیم چماق وسرنیزه کابل که بدبختانه هنوز هم بحیث عامل ادامه جنگ وخونریزی درکشورما باقیمانده است تحت فشار شدید اختلافات گروه های درون حزبی ، ازدیاد نرخ وتورم پولی ، فقر روزافزون مردم درمناطق تحت سلطه رژیم تعصبات مختلف ودرنهایت نیز تحت فشار روز افزون نظامی مجاهدان باشهامت وطن ما قرار گرفته است .

اطلاعات واصله ازکابل میرساند که مردم شهر کابل زمستان بسیار سرد را پشت سرگذاشتند اما انچه بجا مانده است خاطره تلخ است که رژیم نتوانست اهالی راازلحاظ مواد سوخت وغذایی تامین نماید عده ازمردم نادار وفقیر را زمستان شدید محکوم بمرگ ساخت ومردم بیشتر نیز بخاطر سدجوع خود وفامیل خویش به گدایی رواوردند چون جامعه باقوت یافتن انفلاسیون بسرعت بطرف فقر میرود لذا این جریان میتواند بدبختی های چون امراض ، فحشا ، ازدیاد مرگ ومیرومعیوبیت وغیره راباخود داشته باشد ، درین میان صرف ان گروههای میتوانند ازریز دندان بیرحم انفلاسیون فرارنماید که پیوندقوی وشدید با رژیم داشته دربخش های خاص،وپست های حساس دولت بحیث افرادواشخاص وگروه های طرف اعتماد وخدمت گذار به رژیم فعالیت دارند .

ویا هم ان تاجرانی اند که به حمایت یکی ازاراکین رژیم به تجارت پر منفعت مصروف میباشد اگر درجامعه افغانی بخصوص درمیان اهالی کابل دیده شود افراد شامل این گروه بمقایسه مردم یك تعداد بسیار ناچیز راتشکیل میدهند اما دربرابر این شمار محدود ، مردم واهالی موجوداست که بصورت کل وبه معیار زیاد روزبروز درامد وعاید ماهانه شان کاهش یافته به فقر وافلاس میگرایند.

ازانجایکه دولت خود ازنگاه سیاسی اقتصادی واجتماعی دارای دشواری های فراوان است وازطرف دیگر بنا بر سرشت پلید کمونستی خود نمیتواند براهالی اعتماد داشته باشد بنابران بخاطر ارضا خدمتگذاران خود چون قوای نظامی شامل اردو ، خارندوی وجاسوسان خاد وملیشه ها تمام امکانات مادی ومعنوی راازمردم دریغ ودرخدمت حمایت گران خود قرار میدهد .

مردم افغانستان بخصوص انهای که درشهرها تحت سلطه رژیم زنده گی می کنند این تفاوت رابه چشم سرمشاهده می نمایند ودرصورتیکه برکمبود مواد سوخت وغذایی انتقاد ویاشکایت نمایند عمال رژیم به انها میگویند که شما نیز درصف ما قرار گرفته علیه مجاهدین بجنگید تاازنگاه مادی ومعنوی تمام احتیاجات شما مرفوع گردد .

یکی ازخصوصیات مقاومت مردم افغانستان دربرابر استعمار اینست که انها هیچگاه بابیگانگان وعمال انها صادقانه معامله نکرده اند بناً مردم افغانستان بادرك این واقعیت که رژیم کابل نماینده دوران سیاه وحشت وبربریت حضور عساکر روس درافغانستان میباشد باوجود تمام مشکلات ، سختی ها وشکنجه های جسمی ومعنوی ازحمایت ان خود داری می نمایند .

روحیه رژیم کابل دراثر گردش شرایط بین المللی اختلافات میان خودی ، ناکامی درتامین احتیاجات مردم نابسامانی رویه گسترش ولی نعمت ان یعنی روس واتحاد باهمی نیروهای جهاد تضعیف گردیده و همه عواملی اند که رژیم کابل راسخت زیر فشار قرارداده وگام بگام به رژیم تفهیم می کند که به جز ازسقوط دربحر قهر وعقوبت مردم افغانستان راه دیگر درپیش ندارد .

اوس دخوست دښارپه شاوخواکې درژیم ټول کلك دفاعي اوستراتیژیك سنګرونه د مجاهدینو له خوا فتحه شویدي

پوښتنه :-محترم حقاني صاحب که دخوست داوسني جګړې په باره کې مورږته مفصل معلومات راکړئ ؟

ځواب :-بسم الله الرحمن الرحیم
نحمده ونصلی علی رسوله الکریم . امابعد :
سره له دې چې دخوست داوسني جګړې په باب مفصل معلومات په دغه تیلفوني مرکه کښې ځائیدای زه به بیا هم هڅه وکړم چې ددې جګړې په ډیر و مهمو فتحو اوعمده پیښو په هکله معلومات درکړم .

مجاهدین پرخوست باندې دحملې کولو لپاره تقریباً څلورمیاشتې په پلان جوړولو اوترتیبولو اوتنظیمولو بوخت وو،سره له دې چې زموږ له دې پلان څخه دښمن هم خبرؤ اوپخپلو اکمالاتو اودکمربندونو په جوړولو اوقوي کولو یې پیل کړی ؤ،خو هغوی ته داپته نه وه چې مجاهدین به پرکومه خواډیر فشار راوړي اوکوم خط به لومړی ماتوي موږداسې هوډ وکړ چې لومړي باید پرهغه خوا حمله وکړو چې هم هوایي ډګر ته نږدې وي اوهم دخوست ښارته له دغې لارې دمجاهدینو اکمالات هم په ښه طریقه کیدای شول مګرپه دغه ځای کې دښمن درجه یك احضارات نیولي وو ، اوزیاتره قطعات اوقواوې یې دغلته ځای په ځای کړې وې دغلته ددښمن ددفاعي خط ماتول ډیره مشکله خبره وه نوموږ ددښمن دتیرایستلو لپاره دغلته وروـورو رانږدې کیدو مګر تصمیم مو داسې نیولی ؤ چې دخوست په جنوب ختیځ اړخ دملیزیي په منطقه اوفارم باغ باندې حمله کوو ، آخر موږ همداسې وکړل.په دغه ځای مو حمله پیل کړه له موږ سره هغه روسي ساخت ټانکونه هم وو چې له کمونستانو نه مو نیولي دي.په دغه ځای کې دحکومت کمربند په نسبي توګه ضعیف ؤ په لومړني حمله کې موږ ددښمن لس پوستې فتحه کړې په دوهمه ورځ موږ دغلته ددوه درې نورو پوستو په فتحه کولو سره ددښمن لوی دفاعي خط مات کړ.مجاهدینو په همدغه ورځ دفارم باغ لویه قرارګاه فتحه کړه او ورسره نږدې

دخوست له فتحې سره به ټولې مهمې سوق الجیشي منطقې دمجاهدینو په لاس ورشي اودګر ډیز پرخوا به پرمخ لاړ شي او همدغسې به غزني اوهیواد نور ولایتونه یو په بل پسې فتحه او په نتیجه کې به مزدور رژیم ډیر ژر سکور او پرځای به یې دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت جوړ شي.

ټولې پوستې یې ونیولې اوله دغه ځای نه ددښمن څخه قواوې په شاوتښتیدې .

مجاهدینو دشمال له اړخ نه هم برید وکړ اودلکي اومرغره سیمې یې ونیولې دشمال شرق له استقامت نه هم مجاهدینو حمله وکړه اویوه ډیره مهمه ستراتیژیکې سیمه کوکرك اودهغه شاوخوا پوستې یې هم ونیولې.دغه په نوي اوزوړ دواړو هوایي ډګرونو حاکمه نقطه وه.دجنوب شرق په استقامت دکوچیانو قومونه پراته دي دهغوی دجبهو مربوط قوماندانان هم له نورو مجاهدینو سره یو ځای فارم باغ ته رانښوتل او دزاړه هوایي ډګر له سرنه ترنوی هوایي ډګر پورې ټولې پوستې دبطرۍ اوتوپچي ځایونه اوټانکونه یې ونیول دسیګي په سیمه کې دغربي شورا ترقوماندې لاندې مجاهدینو حمله وکړه ، ددښمن دفاعي خط یې مات کړ اوسیګي ته ورسیدل .

دلویدیځ له خوانه هم مجاهدینو بریدوکړ ، خو زیات پرمختګ یې ونشو کړای همدارنګه دجنوب شمال ، اوشمال ختیځ استقامتونو شوراګانو او ورسره ورسره دکوچیانو اولکنو شوراګانو بیا حملې پیل کړې چې په نتیجه کې دیعقوبیو اوباك علاقه داری دخلبسات قرارګاه دنریو کلیو قرارګاه اودشاوخوا ټولې پوستې دمجاهدینو په لاس فتحه شوې اوهمدارنګه دزاړه میدان شرق اوجنوب اړخ ته ټولې پوستې فتحه شوې. مجاهدینو تیره ورځ مازدیګر (دحمل ۲ نیټه) په ۲ لمبر سرحدي لوا باندې چې دګرګره، مرمنډې ، سیله خانې په منطقه کې پرته وه عملیات پیل کړل اوتن تراتو بجو (دحمل ۳) پورې ټوله قرارګاه له منځه لاړه ، افرادیې څه ژوندي ونیول شول ، څه په جګړه کې وژل شوي اوڅه تښتیدلي دي لږه شیبه دمخه دځاځي میدان ولسوالي دتسلیمیدو خبرهم راورسید.دګرګر سراومرمنډې جنوب خواته چې کومې پوستې پرتې وې هغوی هم په تیښته پیل کړیدي .

نوپه لنډه توګه ویلای شو چې دخوست ډیرې مهمې ستراتیژیکې منطقې دمجاهدینو لاس ته ورغلي دي . دجنوب ، شمال زیاتې برخې اودختیځ په استقامت ټولې امنیتي پوستې ، لومړی اودوهم کمربند

دکابل رژیم اودهغه دروسي بادارانو دغه ادعا چې ګني له مجاهدینو سره په جګړه کې خارجي قواوي ګډون لري بیخي دروغ ده موږتعهد ورکوو چې دملګرو ملتونو له هیأت سره دي دروسانو اونجیب استازي هم راشي اوزموږجهاد سنګرونه دي له نږدې ووینی.

دمجاهدینو په لاس فتحه شوې په شمال کې دلاکي غاړې پوځي مرکزونه اوجنوب خواته دخیلخانیو اومرمنډیو قرارګاه اودکوکرك صبری ، یعقوبیو ، دباك ، ځاځي میدان اوجوګیو کې ددښمن پوځي مرکزونه ، حکومتي ارګانونه اودخاد اوشیطاني لویې-لویې ځالې له یوې مخې له منځه تللي دي .

اوس یوازې دخوست مرکز پاتې دی هغه به هم انشاالله دمجاهدینو په لاس فتحه شي .

پوښتنه :- دخوست دجګړې په هکله دمجاهدینو اتفاق اواتحاد څنګه دی؟

ځواب :- دخوست داوسني جګړې دکنترول اوتنظیم لپاره اووه سیمه ایزې جهادي شوراګانې موجودې دي اوددغو اوو شوراګانو په راس کې بیا یوه لویه مشترکه شورا ده چې ۲۳ تنه غړي لري،دغو غړیو له جملې څخه بیا دنظار هیأت په نامه یو اووه کسیزه هیأت موجوددی چې دجګړې عمومي اداره اوتنظیم په غاړه لري همدارنګه مجاهدینو ته داکمالاتو برابرول ، ویشل ، عاجلې مرستې او دټپیانو دعاجلې تداوې اومرکز ته دلیږدولو لارې چارې برابرول ددوی په غاړه دي .

تراوسه پورې خو جګړه په یوه واحده قومانده اوپنهه سرته رسیږي اوخدای (ج) ته امیدلرو چې دهمدې شورا تررهبرۍ اوقیادت لاندې جګړه ادامه ولري ترڅو خوست دلوی خدای (ج) په مرسته دمجاهدینو په لاس فتحه شي اوددغې سیمې دامنیت تامینیدلو او دسیمې دبې ګناه خلکو دسراومال خوندي پاتې کیدلو، دخلکودناموس نه په دفاع کولو کې ددغه جهادي شوراګانو له خوا رامنځ ته شوی اتحاد ستر رول ترسره کړی.دمخه دافیصله شوې چې دغه شوراګانې اودهغوی په رأس کې لویه شورااوبیا دغه اووه کسیز نظارهیئت به په امن پاللو دنویوکلووالو دحمایه کولو دپناه راوړونکو خلکو دعفوه کولو په برخه کې په غورراودپوره مسوولیت په احساس سره ګامونه واخلي.

پوښتنه :- دروسانو اومزدور رژیم راډیـو داالزام لګولی چې په دغو عملیاتوکې

په (۳) مخ کې

دخوست له روانی جگړی نه دجهاد هنداری دلیږل شوو خبریالانو راپورتاژ

ترتیب کوونکی : محمد یعقوب — عکاسي : احمد سینا «احمدي»

لومړی برخه :

پداسی وخت کې چې دپکتیا ولایت دجهادی قوتونو له خوا دخوست دلویی ولسوالی په مرکز عملیات پیل شوی وو مونږ دری تنه ددفتر څخه دراسپارل شوی دندې له مخی دروژی دمبارکی میاشتی په لومړی ورځ دخوست په لورو خوځیدو لومړی شپه مو په میرانشاه کې او دوهمه شپه مو دبړی په مرکز کې دطالب العلمانو سره راغلله دغه طالبان چې توی دحق سنگر ته دکمونستانو په مقابل کې دوسله وال جهاد لپاره راغلی وو دجهاد په مفهوم پوره پوهیدل ، ټوله شپه یې دجهاد دفضیلتونو او دخوست داوسنی جگړی خبری وکړی د دوی خبرو پرمونږ دومره اغیزه وکړه او جذبات مو داسی راوپاریدل چې دځانونو سره مو ویل کاشکی همدا اوس د گرم سنگر اول خط ته رسیدلی وای دشپی مو شیبه په شیبه دبی سیم مخابرو په وسیله دمجاهدینو دبریو زیری اوریدل ، طالبانوچې دجهاد او حق په لارکی ژوند او مرگ دواړه کامیابی گڼل ، ځمکی ځای نه ورکاوه او نه خوب ورتله .

غوښتل یی چې ژرترژره دجگړی گرم سنگرته ځان ورسوی ، شپه تیره شوه ، سهار وختی مو دتودی چینی په لور حرکت وکړ دتودی چینی څخه دفارم باغ خواته نږدی د دروازه گی په سیمه کې دابوجندل دغونډ قرارگاه ته لاړو ، په دغه قرارگاه کې دټپیانو دپاره داولیه مرستو بندوبست شوی ؤ شیبه نیمه پس دټپیانو راوړل پیل شول او بیا دولسی خلکو بهیر هم رامات شو ، پدغوخلکو کې زیاتره سپین ږیری ښځی اوماشومان وو مونږ څه شیبه دلته وځنډیدو او بیا دجگړی اول خط ته وروان شوو ، تقریباً نیم ساعت وروسته دمالیزیو په ټاپوگانو کې چې دخوست ښار شرق خواته موقعیت لری دموټر څخه ښکته شو ، دغه ځای چې یوه ناله غوندی وه دولسی خلکو او مجاهدینو ته دپناه راوړونکو پوځیانو او ملیشه ؤ لومړنی ځای ؤ دغلته واړه ،زاړه نراوښځې راټول شوی وو، دغه ولسی راټول شوی وگړی ډیر وارخطا معلومیده ،ځکه دښمن ډیره بی رحمه بمباری کوله ، په دغه ناله کې دابوجندل دغونډ مجاهدین دکمرونوخواوته ناست وو اوددغوولسی خلکو دلیږدولو لاری چاری یې برابرولی ، شیبه په شیبه موټر راتلل اوخلك یې ددې ځایه نقلول.په دغه ځای کې مونږ.ته معلومه شوه چې زړورو مجاهدینو په دغو ټاپوگانو کې دوحشی دښمن څخه لس (۱۰) پوستی نیولی وی ، یوه ډله مجاهدین دلته ددغو ولسی خلکو او له دښمن څخه پناه راوړونکو خلکو دحفاظت او مصئون ځای ته دلیږدولو لپاره ناست وو ، مونږ.غوښتل چې باید مخکی لاړ شو ، دغه وخت کې مو یو ډریور سره چې مجاهدینو ته یې مهمات وړل ، پیژندگلوی وشوه ورته مووویل چې مونږ هم دځانه سره یوسی هغه ډیرپه خوشحالی خپل موټر ته اوچت کړو او دمجاهدینو داول خط په لور مو حرکت وکړ په لاره کې موځای پرځای دوحشی دښمن دبمبارد له امله شهیدان اوټپیان لیدل همدا رازدلته مو داسی ډیرخاروی ولیدل چې دبمباری له امله هلاك شوی او دځینو خارویو دبدن غړی دمنځه تللی وو او دسرك پر غاړه پراته وو، په کلیو ، بانډو او دمجاهدینو دتگ راتگ پر لارو ډیره سخته بمباری کیدله گڼ ولسی خلك ،ملیشیان او عسکر دمجاهدینو پر لور دامن په خاطر رامات وو لږ.ساعت وروسته فارم باغ ته ورسیدو دفارم باغ آخر کې هغی پوستی ته چې دمزدور رژیم له خواورته دامنیت پوستی نوم ورکړ شوی ؤ ، ورسیدو دغی پوستی په یوه لوړی غونډۍ کې موقعیت درلود او تازه دمجاهدینو په لاس فتحه شوی وه او مجاهدین په کې ناست وو.

«نوریا»

په فارم باغ کې ددښمن نه په نیول شوی امنیتی پوسته کې قومانډان خلیل الرحمن له نورو مجاهدینو سره

اوس دخوست دښارپه شاوخوا ...

پاکستانی قواوی گډون لری ایا داخبره واقعیت لری ؟

ځواب :- څوك چې په جنگ کې ماتی وخوری که هغوی یو څه شرم،حیاء اوعقل ولری نو خپل شکست ومنی. خوهغوی چې شرم اوحیاءنه لری ، په دروغو نه شرمیږی ددوی حکومتونه په دروغو ولاړوی ، نو هغوی بیا دخپلی ماتی په وخت کې دلیونو په شان په دغسی اوتوبو تو اوپروپاگنډونو پیل وکړی .

روسان اوس هم دخپل مزدور رژیم ترشا ولاړدي ډول ډول وسلی اووسیلی ورته ورلیږی زیات شمیر دسکاډ توغندی یې په واك ورکړی چې یوازی دخوست داوسنی جنگ په جریان کې یې تراوسه (۴۰) سکاډ ویشتلی دي ، دغسی الوتکی یې له ډیری لوړی فضا نه اتشی اوگرنیټی بمونه غورځوی .

روسان خو اوس هم په مستقیمه توگه دخوست جنگ دخپل ځان جنگ بولی اوس هم نجیب ته په پټه عسکر رالیږی اودنجیب درژیم ټولی وسلی ، خریطی اونقشی اوپیسی دروسانو دي ، خودې ته روسان خارجی مداخله نه وایی .

مونږ.تعهد ورکوو اوپه ډاگه وایو چې دملگروملتونو هیأت دې راشی دروسانو اودنجیب هیئت دې هم ورسره راشی زمونږ.جهادی سنگرونه دې وگوری ، هماغه زاړه ټانکونه اوهماغه زړی وسلی اووسیلی به ووینی چې مونږ.له روسانو اودهغوی له مزدورانو نه په غنیمت نیولی دي.دوی کولی شی چې زمونږ.ټول تکتیك اواسلحی وگوری .

مونږ.داسی بی همته اوبی وجدانه نه یو، مونږ.پرخدای (ج) کلکه عقیده اوایمان لرو،مونږ.هغه وخت چې دروسانودوه لکه اویا زره پوځ په افغانستان کې موجود ؤ پاکستان ، عربستان اویا بل هیواد ته ددغه ډول مرستی لاس ونه نیو،دخدای (ج) په مرسته اودخپلی بیدریغه قربانی په برکت مو روسانو ته ماتی ورکړه اونن ټوله دنیا داخبره منی چې مجاهدینو هغه وخت هم هیڅ بیرونی قوت ته دمداخلی اجازه نه ده ورکړی چې پاکستانی ، ایرانی اویا بل څوك دی راشی اودوی ته دي افغانستان آزاد کړی نو اوس ددغه متزلزل حکومت درانسکورولو لپاره به مونږ.څنگه خارجی مداخلت ته اجازه ورکوو ؟

نوداهسی بی ځایه پروپاگنډونه اوددرواغو ادعاگانی دي ، مونږ.یې دثبوت په خاطر هرډول چې دبین الملل قوانین اومقررات وی ، دې ته تیاریو چې هغوی ددغی خارجی مداخلت دثبوت لپاره کاروکړی حقیقت دادی چې دروسانو مزدور رژیم اوس خپل شکست په دې باندی پټوی چې هلته یا دلته پاکستان مداخلت وکړ که نه نو رژیم شکست نه خوړ .

پوښتنه :- مجاهدینو چې په خوست کې کوم موقعیتونه اشغال کړی تراوسه په هغو موقعیتونو کې موجوددي اوکه تری راپه شاشوی دي ؟

ځواب :- له هغی ورځی نه چې جنگ شروع شوی تراوسه مادانه دي اووریدلی چې مجاهدینو دي کوم ځای نیولی وی اوله هغی نه دی بیرته په شاشوی وی زه یې دلته څومهم ټکی درته بنیم :

دخوست په شمال شرق کې ډیرمهمه منطقه دکوکرك سیمه ده چې دادولس کاله مزدور رژیم ددې سیمی دسرك امنیت ټینگ ساتلی ؤ له دغی لاری نه ځاځی میدان ته اوله هغه ځای نه ترنوی میدان پوری ددښمن ټولی پوستی اوپوځی مرکزونه یې نیولی دي همدارنگه دشلگی اودرملکه په سیمو کې چې مجاهدینو کومی پوستی نیولی او یا یې دلاکی ، مزغوره کنډکونه اوقرارگاوی نیولی تراوسه دمجاهدینو په لاس کې دي ، یوازی دمتون کلی په سرکې ددښمن امنیتی پوستی پاتی دي دمتون کلی دشانه تردلاکی سره پوری چې څه پوستی وې هغه هم ټولی مجاهدینو نیولی اوتراوسه یې په لاس کې دي .

> یوازې دمتون کلي په سرکې ددښمن امنیتي پوستي پاته دي ، دنورو ټولو سوق الجیشي سیمو سربیره دمتون کلي له شانه تردلاکي سره پورې چې څه پوستي وې هغه هم مجاهدینو فتحه کړي اوتراوسه یې په لاس کې دي

بیا خوست ته اکمالات کیدل مجاهدینو دا لاره هم پری بنده کړه اودکوکرك منطقه یې هم ونیوله دیعقوبیو علاقه داری یې هم ونیوله اودغلته مجاهدینو ددولس ټانکونو په شمول زیاتی وسلی اووسیلی په غنیمت ونیولی دجوگیو قرارگاه ، ځاځی میدان ولسوالی اودباك علاقه داری یې هم فتحه کړی دي ، دغسی فارم باغ اودزاړه میدان له سرنه نوداخبره حقیقت دی چې مجاهدینو چې کوم ځایونه فتحه کړی هغه اوس هم له مجاهدینو سره دي اوپه بری سره پرمخ روان دي .

پوښتنه : که چیری دخوست قواوی تاسی ته تسلیم شی نومجاهدین به له دوی سره څه ډول رویه اوچارچلند وکړی ؟

ځواب :- دمجاهدینو له خوا دوی ته په محلی راډیوگانو کې اوحتی په نړیوالو راډیو گانو کې څو څو ځله عفوه اعلان کړای شویده دقوماندانانو شوراهم دوی ته عفوه اعلان کړی اوداډول عفوی دوی ته په لوډسپیکرونو کې گړی په گړی اعلانیږی چې که دوی دجگړی کولو اوډزو کولو په حال کې گیر نه شی دوی په تیرو اعمالو نه محاکمه کیږی ، دوی ته کاملاً عفوه ده داخبره زه ددې لپاره نه کوم چې گوندی دوی به ترتاثیر لاندی راشی اوتسلیم به شی زمایه خدای (ج) عقیده ده چې دوی له تسلیمی نه پرته بله چاره نلری ،ځکه میدانونه هم پری بنددي اوځمکنی لاری یې هم بندی شوی دي ټول ستراتیژیك کمربندونه یې ختم شوی دي دعسکرو روحیه یې ډیره ضعیفه ده اودتیښتی لاری لتهوی.زه دالهی احکامو مطابق داخبره کوم چې کوم خلك وسله په ځمکه کیږدی اودجگړی په حالت کې گیرنه شی دوی ټولو ته عفوه ده اومونږ.ددوی دسراومال نه دفاع کوو دمخه هم مونږ.ته ډیر صاحب منصبان تسلیم شوی دي اوچی یوڅه موده یې له مونږ.سره تیره کړی بیا نیك مسلمانان اوددین خدمتگاران تری جوړشوی ، نوداخلك هم چې اوس دشیطانانو له ځالونه

پاتې په (٤) مخ کې

پرخوست دمجاهدینومتحد بریالی عملیات دجهادي سنګرونو د . . .

اوس ددښمن ټولی قواوی دخوست دښارمرکزته ورټولی شوی ،نوی او زوړ هوایی ډګرونه دواړه له فعالیته لویدلی ، خوست ته دمزدور رژیم دمرستو ټولی لاری بندی شوی اودمحاصری کړی شیبه په شیبه تنګیږی مجاهدین دخپل ژر بریالیتوب اودښمن دخپل محتوم شکست دشیبی رارسیدو ته سترګی په لاردی.

دمجاهدینو دغه ګډ اومتحد عملیاتو دکنترول ، تنظیم اواداری لپاره اووه سیمه ایزی جهادی شوراګانی موجودی دي اوددغو اوو شوراګانو په رأس کي یوه لویه شورا شته چی (۲۳) تنه غړی لری اویا له دغو (۲۳) تنو څخه دنظار هئیات په نامه یواووه کسیزهئیات ټاکل شوی چی دجګړی عمومی اداره ، کنترول ، مجاهدینو ته داکمالاتو برابرول ، ویشل عاجلی مرستی وررسولو دنده په غاړه لری .

دجګړی له پیل څخه تراوسه پوری ټول جهادی فعالیتونه ددغو محلی شوراګانو ، دلویی شورا اودهغی په رأس کي دنظار هئیت ترقیادت،قوماندی اواداری لاندی سرته رسیږی اومجاهدین په بری سره پرمخ روان دي .

دجهادی قوتونو اوسنګرونو دوحدت اوهماهنګ کیدلو مسٔله زموږ دجهاد په اوسني پړاو کي چی دیری په درشل کي دی له بل هروخت او هرڅه نه مهمه ضروری اوباارزښته ده . دهمدغه ضرورت داحساس له مخی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی په نوښت تیرکال دثور په ۱۷ نیټه دقوماندانانو سرتاسری شوراجوړه اولومړنی غونډه‌یی په یوه جهادی مرکز (ژوره) کی وشوه اوبیا وروسی دشوراپله غونډه چی په کي (۳۰۰) تنو قوماندانانو ګډون کړی ؤ هم په نوموړی مرکز کی وشوه اوبیا یی پله مقدماتی غونډه دبدخشان په توپخانه کي وشوه .

لکه چی څرګنده ده دقوماندانانو دشوراستراومهم اهداف په نظامی سطح دمجاهدینو دیوی واحدی ستراتیژی ټاکل ، دجهادی قوتونومنظمول ، دجهادی عملیاتو هماهنګ کول اودسنګرونو ترمنځ دوحدت مسٔله ده .

ځکه ترڅوچی جهادی قوتونه سره متحد نه شی اودتیتو پرکو اوغیر منظمو عملیاتو پرځای ددښمن پرپوځی مرکزونو اوحکومتی ارګانونو منظم اوهماهنګ عملیات سرته ونه رسوی زموږدجهاد دبریالیتوب په مخکی خنډونه اوځنډونه له منځه نشی تللی او که چیری جهادی عملیات هماهنګ اودیو منظم پلان له مخی وی نوبیا خوبی دلوی خدای (ج) په مرسته بری حتمی دی ، لکه چی دخوست اوسنی جهادی بریالی عملیات چی په متحده اوهماهنګ ډول دمحلی جهادی شوراګانو اودلویی شوراپه قومانده اواداره سرته رسیږی زموږددي ادعا ډیر ښه اوبرځای ثبوت دی .

ددغو عملیاتو په نتیجه کي چی په یوه قومانده اواداره سرته رسیږی ، موږ ولیدل چی ددښمن ډیرلوی اوقوی مرکزونو اوقرارګاوو هم مقاومت ونشو کړای او په ډیرو کمو ورځو کی دومره فتحی وشوی اوپر دښمن داسی بریالیتوبونه ترلاسه شول چی هیچایی په اسانی سره اټکل هم نشو کولی.نوبی له شکه چی دلوی خدای (ج) مرسته اودمجاهدینو متحد اوهماهنګ عملیات وو چی دښمن دمقاومت ځواک له لاسه ورکړاوبری دمجاهدینو په برخه شو.

خدای (ج) دی وکړی چی پرخوست دمجاهدینو متحد عملیات ترپایه همداسی متحد اوهماهنګ پاتی شی ، اوددوی دغه متحد عملیات دټول افغانستان دمجاهدینو لپاره دعبرت درس وګرځی اودلاری مشال،هغوی هم ددوی په پله روان شی ، هرځای ددښمن پرپوځی مرکزونو،حکومتی ارګانونو متحد اوهماهنګ اویه یوه قومانده اواداره عملیات پیل کړی ، لری نه ده چی دروسانو مزدور رژیم چی خپل محتوم شکست ته سترګی په لاردی ، رانسکور اوپرځای یی دمجاهدینو په لاس یوربښتینی اسلامی حکومت جوړاوزموږله هیواد څخه دالحاد اوفساد تغرورټول شی .

ومن الله التوفیق

دخوست دځارندوي قوماندان...

تردوو بجوړوري ددښمن (۵۰) پراشوته دهغه له مهماتو سره دمجاهدینو له خوا په غنیمت ونیول شول چي په هغه کي داویوس توپ،هاوان اوټانك مرمي چي ټولي (۵۰۰) مرمي پلاس راغلي دي .

اودحمل په (٤مه) دخوست له مرکز څخه (۳۰۰) کورني میرامشاه ته ورسیدل دحمل په (۵) مه درژیم یوه الوتکه دخوست په هوایي ډګر کي دکیناستلو په وخت کي دمجاهدینو دډزو له امله ولویده اودزني خیلو په سیمه کي دسوري غونډي په نامه ددښمن یوه پوسته فتحه شویده اودسیګي، لعلي په ګډون دري نوري پوستي دښارپه جنوب کي قهرمانو مجاهدینو له خوا ونیول شوي همداراز داوزیانو په کلي کي څلویښت تنه ملیشه وژل شوي دي .

برسیره پردي په همدي نیټه مجاهدینو دخوست په شمال لویدیزي خواحمله وکړه چي په نتیجه کي دتنډ ، لیوني کنده اوستو غونډۍ پوستي په ګډون پنځه پوستي اویوه قرارګاه دمجاهدینو په لاس فتحه شوي،جګړه په شدت سره دوام لري اوپه خوست باندي دمزدوررژیم بمباري اودسکډ توغندیو ډزي ورځ په ورځ زیاتیږي،خولدي ټولو هلو ځلو سره سره دښمن ته دمقابلې چانس نه لیدل کیږي

په یو بل خبر کي چي دالحاج حقاني له جبهاتو څخه پیښور ته مخابره شوي راغلي چي دخوست دځارندوي قوماندان جنرال‌الغوندي اوپنځه څلویښت تنه ملیشه دمجاهدینو دډزو په اثر له منځه تللي دي .

دهیئت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون پیښور
تیلفون : ... (٤۱۷٤٦)

دقیصارپه ولسوالۍ کې ...

فاریاب ،میډیا :

په هغه راپورکی چی دفاریاب ولایت دقیصار ولسوالۍ دیوی جهادی منبع څخه میډیا ته رسیدلی ویل شوی ددی ولسوالی زړورو مجاهدینو دحوت په ۲۸ مه نیټه دملیشه و په یوه غونډ باندی برید وکړ چی په نتیجه کی ددغه غونډ دملیشه و ۸ مشهور قوماندانان دیو زیات شمیر ملیشه ؤاو ۹۰۰ میله درنډو اوسپکو وسلو ، او زیاتو نظامی مهماتو اولوژستیکی مواد ورسره نیولی دی .

خبرزیاتوی چې دملیشه د دغه غونډقوماندان رضا خان نومیده چی ډیره موده یی دمجاهدینو په لیکو کی دخاد په ګټه فعالیت کاوه ،

همدارنګه میډیا دنوموړی خبر ځای دیوه بل خبر له مخی راپور ورکړی چی دقیصار ولسوالی‌مجاهدینو دحوت په ۲۷ مه نیټه ، ددی ولسوالی په لویدیز څلورکیلومتری کی ددښمن دنظامی قواو دیکه باغ پر قرارګاه بریدوکړ چی په نتیجه کی داوږدی جګړی څخه وروسته دغه قرارګاه دمجاهدینو په لاس فتحه اودرژیم دقواو ۸ تنه قوماندانان د۹ میله زیکاویك ، یوی پایی هاوان ؛ ۱۸۰ میله کلاشینکوف ، یو میل دهشکی اویو زیات مقدار نظامی مهماتو سره دمجاهدینو له خوا نیول شوی دی .

اوس دخوست دښارپه شاوخواکې درژیم...

راووځی اودملحدینو له سلطی نه خلاص شی ، دکمونستانو له غلامی نه راخلاص شی دمسلمانانو په صف کی راګډ شی .

دغه خلك افغانان دی ، موږ دوی نه وژنو ، بلکی موږ خوررژیم نسکوروو، موږ ددوی دسراومال ساتنه کوو اودوی ته دهرډول ممکنو سهولتونو دبرابرولو په لټه کی یو ، موږ دوی ته دسرپناه پیداکولو هڅه کوو، ترڅو دنجیب درژیم دبمباری‌اوسکډ توغندیو نه په امن شی .

پوښتنه :- دخوست فتحه به مجاهدینو ته څه ګټه ولری اوترفتحی وروسته به یی امنیت څنګه تأمین شی ؟

ځواب :- مجاهدین به ترفتحی وروسته دخوست دامنیت دتأمین لپاره ترممکنه حده خپلې هلی ځلی جاری وساتی کیدای شي ترفتحی وروسته مزدور رژیم له لوری فضا څخه په خوست بمباری وکړی اودسکډ توغندی وولی ، خودلوی خدای (ج) په فضل داکارهم دروسانو مزدورانواوملحدو کمونستانو ته کومه ګټه نه رسوی.مزدوررژیم له یوی ورځی نه بلی ته کمزوری کیږی اوهرچیری پری دمحاصری کړی‌تنګیږی اودځان نه ددفاع قوت له لاسه ورکوی.

دخوست فتحه کیدل، به‌مجاهدینو ته داګټه ولری چی مجاهدین به ددغه مهمی سوق الجیشی نقطی په نیولو سره دګردیز په خوا پرمخ لاړشی هغه به هم دخدای (ج) په مرسته فتحه کړی اودغسی به غزنی اودهیواد نور ولایتو نه هم یو په بل پسی فتحه اوپه نتیجه کی به دروسانو مزدور رژیم نورهم کمزوری شی دمقاومت توان به‌دلاسه‌ورکړی په ډیرکم وخت کی به‌رانسکور اوپرځای به یی دمجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړشی .

دلته دقوماندانانو اودهغوي دمجاهدینو په لاس الله (ج) ستره فتحه راوسته ، دجهاد په لیکو کي چي کوم بن بست اورکود رامنځ ته شوي ؤ هغه له منځه لاړ، اوس مجاهدینو ته څومرحلي په مخکي پاتي دي :

لومړي داچي جنګي بندیانو ته کامله عفوه وکړي اودشرعي احکامو سره سم ددوی عزت ، ناموس اوامنیت وساتي .

بله داچي هیچاته دي اجازه نه ورکوي دشخصي ګټو په خاطر ملي شتمنيږله منځه یوسي کله چي مجاهدین ښارونو ته ورننوځي هلته دحکومت جاسوسان اوتخریبکاران هم شته چي دمجاهدینو دبدنامولو لپاره دودانیو ، دفترونو اواسنادو سوځولو ته اقدام کوي ، قوماندانان اومجاهدین باید ددي کار مخنیوي وکړي اوچاته دي اجازه نه ورکوي چي په دغسي اقدام لاس پوري کړي .

دوي باید څوك پرینږدي چي دچاپه ناموس اومال باندي تعرض وکړي ؛

بله مرحله داده چي دلته ډیري وسلي اووسیلي مجاهدینو ته په لاس ورغلي اوورځي ، داټول باید په منظمه توګه راجمع اوثبت شي دافغانستان دجنګ ترختمیدو پوري باید هیڅ ډول ثقلیه وسله تقسیم نشي ، بلکي هغه وسلي چي ترمیم غواړي هغو ته دي ورکشاپونه جوړشي اوله ټولي وسلي څخه دي په مشترکه توګه په جګړه کي کارواخیستل شي .

بله مرحله داده چي دخلکو دامن ځاي ته درسولو اوددوي په حمایت کولو کي دي کومك وکړي دامن په صورت کي بیرته دوي خپلو کورونو ته رسول اوهلته آبادول هم ددغو قوماندانانو اومجاهدینو وظیفه ده .

پوښتنه :- دافغانستان مجاهدینو اوقوماندانانو ته څه پیغام لرئ ؟

ځواب :- ټولو قوماندانانو ، مجاهدینو اومشرانو ته زما پیغام دادي چي سره متحد شي اودغسي اتحاد وکړي. لکه څنګه چي تراوسه پوري په‌خوست کي عملي شو ، خپل داخلي اختلافات ،حزبي اوقومي تعصبات شاته وغورځوي اوپه یوه اتحاد هرځاي ددښمن پرپوځي مرکزونو اوحکومتي ارګانونو بریدونه وکړي ، دملحد دښمن پرضد جګړي ته نور هم تشدد ورکړي په یو واحد غږ اویؤقیادت جګړي ته راپورته شي ، دغسي عمومي عفوه اعلان کړي لکه څنګه چي موږاوس په خوست کي اعلان کړي ده دملي شتمنیو دتباه کیدو اوله منځه تللو اوتالاترغه کیدلو مخه باید ونیسي .